مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۵/۰۵/۱۳

# غـــزل

ما په توره شپه له خدایه د زړه داغ غوښت
جار شم یاد دې ژر په هېره غاړه راکړه

وخته زه دې په څه پرېوتم له سترګو؟
نن مي خپل اندام په وېره غاړه راکړه

زما د تېر ژوند له حسابه ته قرضدار یې
نوې نه شوه دا دې تېره غاړه راکړه

سیند راوړی وم چي داسي په نه زړه دی
ټال وجود ته لکه بېره غاړه راکړه؟

رقیب ټینګ کړمه په غېږ کي لکه مړی
خو یار ورو غوندې برسېره غاړه راکړه

۲۰۲۲/۱۲/۱۹ کابل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ